واحد فقیری هاری ۲۰۰۸/۱۰/۰۵م

# د افغانستان لپاره یو "مناسب دیکتاتور" پکار دی

په بهرني مطبوعاتو کي، د افغانستان د رواني ستونزي د فیصله کولو په مقصد ډېر زیات رپوټونه خپاره سوي دي. په تېره بیا، افغانستان ته د اضافه عسکرو د استولو مسله ډېر گرمه ده. د یوې خوا، اکثره نظامي څارونکي باور لري چي په افغانستان کي خارجي عسکر لږ دي او طالبانو له همدې کمزورۍ څخه گټه اخلي. بلخوا، طالبان په پاکستان کي د سېب او پټېدو ځایونه لري او ازاد تگ را تگ کوي. ځیني سیاسي او نظامي مبصرین دې نتیجې ته رسېدلي دي چي د افغانستان ستونزه یوازي د نظامي مټ او وژولو په زور نه فیصله کېږي. د امریکایي پوځي مشران، پخواني او اوسني دیپلوماتان، غربي او شرقي مطبوعات، د بوش د اداري عالي رتبه چارواکي، او لیبرال او محافظه کاره مبصرین پدې باور دي چي د افغانستان لپاره باید یو هر اړخیز سیاسي حل پیدا سي. سیاسي پروسه باید گړندۍ سي. په بل عبارت،[" د افغانستان ستونزه نظامي نه، بلکي سیاسي ده. "]

له ډېر وخت راهیسي، ځینو مبصرینو همدا خبره کوله، خو اوس د امریکا حکومت، اروپایان، او خارجي مبصرین همدې نتیجې ته رسېدلي دي. دا یو څه د خوښۍ ځای دی. ځکه اوس هم ددې امکان سته چي افغانستان وژغورل سي. مگر باید اضافه سي چي په ډارنو گوډاګیانو باندي نه وطن ساتل کېږي او نه هم توره په وهل کېږي. د بوش حکومت د ۲۰۰۱ په پای کي ، د یو لړ تاریخي دارمارانو سره ناروا ایتلاف وکی چي نتیجه یې نننۍ رسوایي او ماته ده. د بوش د اداري همدا اشتباه ډېره گرانه تمامه سوه، او که چیري یې ژر تر ژره تلافي ونسي ښایي څه موده وروسته د امریکا په لمن کي یو ځل بیا اور بل سي. تاریخ داسي راوړې ده چي د افغانستان سره غفلت کېدای سي، خو بیخي هېرېدلای نه سي. هیلمن یم چي د امریکا راتکونکي اداره همدا خطا او سیاسي کم عقلي تکرار نه کړي، او له درایت او منطق څخه کار واخلي. په بل عبارت، په افغانستان کي د اوسني بې کفایته مشرانو پر ځای څه پاک او موثر خلک په کار وگوماري. پاکستان سره جدي خبري وکي. د پښتنو په سیمو کي د جنگ او بمباریو پر ځای د امنیت او بیاودانولو کارونه پیل کي. د افغانانو سره د القاعدي، طالبانو، او مذهبي افراطیت په ختمولو کي پوره مرسته وکي. د افغانانو لپاره د ژوند او کار فرصت برابر کړي. اقتصاد او بیاودانولو ته پوره توجه وکړي. امریکا مجبوره ده چي په افغانستان کي ناراضه او ځپېدلي اقوام خوشحاله کي؛ بمباري او مرگ ژوبله کمه کي؛ د کابل په حکومت کي د اقوامو تر منځ ځرگنده او خطرناکه بې انډولي ختمه کړي؛ او په افغانستان کي د قومي او سمتي سیاست څخه لاس په سر سي. مانا دا چي په اقلیتونو باندي د قاطع اکثریت سپکاوی ختم کي ځکه شورویانو همدا اشتباوي وکړي، خو پای یې ښه نوو. شورویانو د افغانستان په قومي جوړښت کي لاسوهني کولي؛ د دوستم ملیشیا، د عصمت ملیشیا، په اخر کي د مسعود ملیشیا گرده د روسانو د وخت پاتي شوني دي. مگر ورسیه بالاخره ناکامه سوه. ضروري نده چي یو ځل بیا هغه ناکامه لاره تعقیب سي.

په هر صورت، د افغانستان ستونزه حل لري، خو سالم فکر، پخه ستراتیژي، او ښه ډېر سیاسي جرات او شهامت غواړي. نن سبا، د کامیابو هېوادونو تجربې او د حل لاري زموږ په مخ کي تېري سوي دي. اروپا، شرقي اسیا، او د هند او چین د انکشاف او پرمختگ تجربې ډېري تازه او خو کلني دي. په ټولو پرمختللو ټولنو کي د مرکزي دولت فیصلو او پالیسیو د همدغو جامعو په برخلیک کي مهم او ا ساسي نقش لري. په متحده ایالاتوکي، د ۷۰۰ بیلون ډالرو بېل اوټ ښه او ژوندی مثال دی. نن سبا، گرده دنیا سره نښتي ده. گلوبلایزشن سرحدونه ماته کړي دي. دولت، ملي حاکمیت، مشروعیت او حکومت ته باید نوی تعریفونه پیدا سي. افغانستان د سیاسي تکامل په داسي دوران کي دی چي په لمړي کلونو کي، یو قوي مرکزي، مشروع، او څه سورسترگي حکومت ته اړتیا لري. داسي یو حکومت چي د بین المللي ټولني په مرسته د دولت جوړولو ته جدي پام وکي. د افغانستان ثبات او رشد د دولت په رشد او ثبات پوري اړه لري. د افغانستان دیرش کلن سیاسي بحران د مرکزي قوي حکومت په نشته والي کي خلاصه کېږي. ترڅو پوري چي دا خنډ ایسته نه سي، په هېواد کي سوله او اقتصادي انکشاف راتلای نه سي. دیرش کاله کېږي چي افغانستان د ناکامو دولتونو په لست کي لمړی او یا دوهم مقام لري.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د نیوز ویک مجله د اکتوبر پر دوهمه لیکي: په کابل کي، د برتانیي سفیر ویلي دي چي په افغانستان کي به د طالبانو د ختمولو په مقصد د متحده ایالاتو هلي ځلي ناکامه سي. هغه زیاته کړې ده چي ښه او موثره لاره به دا وي چي په کابل کي یو "مناسب او د منلو وړ دیکتاتور" نصب سي. هغه وایي: اوسني شرایط ډېر نازک او لړزانه دي. امنیت ورځ په ورځ خرابېږي. حکومت اداري فساد په سر اخیستی دی، او حکومت خپل ټول اعتبار او حیثیت له لاسه ورکړی دی. د کرزي حکومت پرته له خارجي قواوو څخه سمدستي رِنګېږي.

د برتانیي سفیر وایي: امریکایانو ته باید وویل سي چي موږ غواړو د یوې کامیابه ستراتیژۍ ملاتړ وکړو، نه د یوې ناکامي ستراتیژۍ. موږ باید د امریکا د جمهوري ریاست کاندیدان پدې راضي کړو چي باید په افغانستان کي بند نه سي. په افغانستان کي، د امریکا ستراتیژي ناکامه ده.

د برتانیي سیفر وایي: په افغانستان کي خارجي قوه د حل لاره نده، بلکي د مشکل یوه برخه ده. هغه وایي موږ یو داسي رژیم ساتو چي خپله ځان نه سي ساتلای. هغه زیاتوي د افغانستان لپاره به ډېره ښه وي چي یو "مناسب او د منلو وړ دیکتاتور" د پنځو او یا لسوکالو لپاره حکومت وکي. " دا یوه واقعي د حل لاره ده. موږ مجبوره یو چي پخپلو هېوادونو کي عامه ذهنیت ددې لپاره چمتو کوو."

په همدې لړ کي، د اکانومیسټ مجله د اکتوبر د میاشتي پر دوهمه باندي د "طالبانو سره د مذاکري" تر عنوان لاندي لیکي: پدې وروستیو وختونو کي، په کابل کي وضع ډېره غمجنه ده ځکه د طالبانو پر خلاف د ناټو جګړه په ټپه ولاړه ده. بلخوا، که څه هم په هلمند کي هم د طالبانو د برى نښي نښاني نسته، خو طالبانو د عامه خلکو د زړونو د ګټلو لپاره نوي لاري چاري غوره کړي دي. په هلمند کي،د کال ۲۰۰٦ راهیسي ۱۱۵ انګریزي عسکر تلف سوي دي، خو په مقابل کي ۵۰۰۰ طالبان د مرګ ګوله سوي دي.

په افغانستان کي، د طالبانو او ناټو قواوو تر مینځ یو ډول نظامي بن بست راغلی دی. انګریزان غواړي افغاني قوه وروزي، او خو په عین زمان کي، د یوې سیاسي روغي جوړي په تمه دي. یو انګریز قومندان اټکل کوي چي ښایي انګریزي قوه په دریو یا پنځو کالو کي له افغانستان څخه ووځي. مګر د افغانانو" سیاسي بلوغ او پوخوالی" به څو لسیزي او یا نسلونه وغواړي.

پدې تېرو وختونو کي، طالبانو ګرمسیر او موسی کلا وروسته له څه جنګونو څخه بایلول. مګر دم ګړی د طالبانو ستراتیژي د سیمو کنټرول نه، بلکي د خپل نفوذ او نوم او نښان خورول دي. په بل عبارت، د عامه خلکو د زړونو ګټل دي. طالبان اوس نه د خلکو په ړېړو کار لري او نه هم په موسیقي، نه په کاغذ باد او نه هم نورو ساعت تېریو باندي کار لري. مانا دا چي طالبان څه اهلي سویدي.

طالبانو پخوا تسلیم او یا نیول سوي عسکر او پولیسان سمدستي وژل، خو اوس هغوی عفوه کوي. ځیني محلي خلک وایي پدې کي د طالبانو چم دی. بلخوا، طالبان د مخدره موادو د قاچاق او کر لپاره هم اسانتیاوي برابري کړیدي. طالبان دا ادعا ردوي، خو د کوکنارو له بزګرانو څخه د زکات او خیرات ټول مني. وروسته، په همدې پیسو د حکومت له عسکرو او پولیسو څخه وسلې رانیسي.

د کال ۲۰۰۱ راهیسي، ناټو د طالبانو مشهور قومندانان وژلي دي. اوس، د طالبانو د قومندانانو وسطي عمر ۲۵ کاله دی. عموما، د وژل سویو قومندانانو ځای د هغوی خپلوان ډکوي. که څه هم، د طالبانو همدا پالیسي د هغوی په لیکو کي وفاداري او نظم ساتي، خو په عین زمان کي قومي احساسات او اړیکي نوري هم غښتلي کوي. ځیني مبصرین طالبان د افغاني ټولني یوه بله ملېشیا ګڼي چي پدې تېرو کلونو کي یي افغانستان بې ثباته کړی دی.

دغه راز، د اکانومیسټ مجله د اکتوبر پر دوهمه باندي په یوه بل رپوټ لیکي: ایا د امریکا مشهور قومندان جنرال پیټریس به په افغانستان کي بریالی سي؟ پدې تېرو دوو کلونو کي جنرال ډېوید پټیریس په امریکا کي خورا مشهور او محبوب سوی دی. جنرال پټیریس په عراق کي د "سرج" ځارنه کوله. همدا اوس، هغه د متحده ایالاتو د مرکزي قومندې مشر دی. هغه به له افغانستان څخه نیولي بیا تر مصر پوري عملیات ځاري، او د امریکا د بل جمهوررییس په دوره کي به د "تروریزم پر خلاف" جګړه هم ځاري. ایا هغه به وکړای سي چي د عراق کامیابي په افغانستان کي هم تکراره کړي؟ په عراق کي امنیت څه ښه سوی دی، خو په افغانستان کي لا خراب سوی دی.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

هغه وايي د عراق درسونه په اسانۍ سره افغانستان ته نه سي انتقالېدای. عراق ډېر شتمن هېواد دی. هلته ډېر زيات امريکايي عسکر پراته دي، او ياغيان د افغانستان په شان د سرحد پر ها بلي غاړي باندي د سېب او پټېدو ځای نلري. هغه وايي د عراق حالات نازک او لړزانه دي. هغه غواړي چي په عراق کي تر کال ۲۰۱۰ پوري زيات شمېر امريکايي عسکر وساتي. مگر په افغانستان کي امريکايي قومندانان نور اضافه عسکر غواړي. د ناټو هېوادونه نه غواړي چي افغانستان ته نور عسکر واستوي.

په عراق کي، "سرج" ډېر موثر نه وو. هلته سياسي بدلونونه حياتي نقش لاره. په عراق کي، سني اقوامو خپله جبهه بدله کړه. شيعه مليشا_ د مهدي لښکر_ اوربند اعلان کی. په عراق کي، امريکايي عسکرو ته امر سوی وو چي نه يوازي القاعده سټه کي، بلکي د ځايي خلکو په ساتلو کي پوره هڅه وکي. جنرال پيتريس وايي د عراقيانو راجلبول مهم دي. عراقيان اصلي عامل دی. عسکر مجبوره دي چي د خلکو سره نژدې تماس ولري. هغه وايي."تاسو نه سئ کولای چي په وژولو برى تر لاسه کړئ." ياغيان بايد له ځو خواوو څخه تر فشار لاندي ونيول سي_ نظامي، استخباراتي، سياسي، انکشافي، مطبوعاتي او نور. هغه وايي: "ښه بخت هغه ته وايي چي سرى چمتو وي او فرصت پلاس ورسي." هغه دغه راز د افغاني اقوامو راجلبول حياتي گڼي. په عراق کي د ويښي شورا کاميابي ښه مثال دی.

په افغانستان کي، برى مسلم ندی او ښايي کلونه کلونه ونيسي. جنرال ډېويډ پيټريس وايي: " تل بايد دا په پام کي ولرو چي يوه ستراتيژي چي نن موثره وي، ښايي سبا نه وي. څه چي په يوې سيمي کي کار ورکړي وي، ښايي په بله سيمه کي کار ور نه کړي."

بلخوا، د واشنگټن پوست ورځپاڼه د اکتوبر پر ۲ ليکي: په افغانستان کي، د ناټو امريکايي قومندان جنرال ډېويډ مککېرنان، پرون وويل د افغانستان لپاره نورو اضافه عسکرو ته اړتيا سته، خو هغه زياته کړه په افغانستان کي به د عراق په شان "سرج" وضع سمه نه کي. هغه وويل: " افغانستان عراق ندی. افغانستان تر عراق ډېر پېچلی او مغلق ځای دی. افغانستان غرنی ملک دی. اکثره خلک په کليو کي ژوند کوي. فقر او بې سوادي زياته ده. قريب څلور سوه اقوام پکي ژوند کوي او اوږدو کورني جنگونو وضع نوره هم پېچلي ده." هغه زياته کړه په افغانستان کي د ياغيانو د ختمولو لپاره د اوږدې مودې تعهد ته اړتيا سته. هلته ښايي په کلونو کلونو پاتي يو، او د حل لاره به سياسي وي نه نظامي.

جنرال ډېويډ مککېرنان د عراق او افغانستان د يو بل توپير په باب وايي : په عراق کي سني اقوام او مليشياووي په خپلو سيمو کي د امنيت د ساتلو په غرض استخدام سويدي. هغه وايي : په افغانستان کي د اقوامو گډون ضروري دی، خو دا کار بايد د افغاني حکومت له لاري وسي، نه د امريکايي پوځ لخوا. هغه وايي : "زه نه غواړم چي د متحده ايالاتو پوځ د افغاني قومونو سره لتاړ سي. ځکه د افغانستان قومي جوړښت ډېر پېچلی او خطرناکه دی. افغانستان د کورني جنگونو نژدې او اوږد تاريخ لري. که چيري موږ د يوه قوم سره ايتلاف وکړو، د داخلي جنگ د بيا پيلولو امکان بيخي ډېرېږی." هغه وويل : ياغيان له پاکستان څخه را شوه کېږي. هلته د سبب ځايونه لري. هلته اوزبک، چيچين، عرب، او پاکستاني جنگيالي سته. موږ په يو سخت جنگ کي لگيايو چي ښايي نور هم گران او سخت سي."

پای



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de